# د چاپیریال او مصرف کونکود ساتنی لپاره
# دبایرن ایالت وزارت

## د مسلمانانو لپاره د معلوماتو پاڼه
## په بایرن کي دلوی اختر په مناسبت دحیواناتو د حلالولو مقررات

» په کور او بهر کي د حیواناتو حلالول اجازه نه شته .

» تاسي فقط اجازه لرئ ، چي حیوانات په مناسب ترانسپورتي وسایلو کي ( لکه تریلر) انتقال کړئ . د حیواناتو ترانسپورت د موټر په ټول بکس کي اجازه نه شته .

» د حیواناتو سره په احتیاط رفتار وکړئ . له ویښتانو یې مه کشوئ ، پر حیوان کیناستل ، د حیوان ټینګ نیول، او په پښو تړل اجازه نه شته . دا سي نه چي یواځي حیوانات عذاب احساسوي ، بلکه د هغه دغوښي کیفیت هم صدمه ویني .

» د حیواناتو د ساتني د قانون له مخي د حیوان حلالول فقط د **بیهوښي** په حالت کي اجازه شته . د حیوان د ویني جاری کول (خونریزي) بیله دې چي بیهوښه شي ، اجازه نه شته . فقط په خاصو حالتونو کي کېدای شي ، مربوطه مرجع په استثنایې توګه اجازه ورکړي .

» د حیوان د ویني جاری کول تاسو هغه وخت پخپله اجازه لرئ ، چي ددې کار لپاره اهلیت ثبوت کړئ . تا سو پدې اړه معلومات له ویټرینري اداري نه لاس ته راوړای شئ .

» په بدیل کي یې تاسو کولای شئ ، حیوان د ویني د بهیدلو په وخت کي بدرګه کړئ ، هغه په دې ترتیب ،کو م وخت چي کار پوه د حیوان غاړي پرې کوي تاسو پر حیوان لاس کیږدئ اودعاو کړئ .

» **د ویني دجاری کولوپه وخت کي اړین ټکي : تر حد اضافه د غاړي پرېکول ، د غاړي دومره زیات کشول چي مغزی مات شي منع دی . د سر پرې کول هغه وخت اجازه شته چي حیوان مړ شوی وي .**

» **تاسو مسلخ ته د ننوتلو اجازه د مسلخ د خاوند تر مشورې او اجازې وروسته لرئ . شرایط یې دادي ، چي لباس به مو پاک وي (دمثال په توګه یو ځل مصرف لباس) د لاسونو او بوټونو ضد عفوني کول . که تاسو د حیوان په ټوټه کولو ځان بوخت کوئ ، بیا نو تاسو ته باید د میکروب ضد قانون له مخي لار ښودنه وشي . ددې کار دنده د محلي روغتیایي اداري په غاړه ده .**

» **د حلالولود حیوان او د هغه د غوښي معاینه کول رسمي مکلفیت دی .** رسمي ډاکټر امتحانوي ، چي حیوان جوړ روغ دی او که یې ځیني ارګانونه خراب دی او باید هیسته واچول شي . د حیوان د غوښو خوړل د یوې ټاپې په وسیله چي رنګ یې د خوړلو وي ، تصدیق کیږي . تر هغه وروسته بیا تاسو اجازه لرئ ، غوښه له ځانه سره یوسئ .

» د حیوان د بدن ځیني برخي (خطرناک مواد) هیڅ وخت اجازه نه شته له ځانه سره یووړه شي . هغه باید په هغه ځای کي له منځه یووړه شي . دا شیان دادي : طحال (پانکریاس) او د نری کولمې اخیری برخه . پسه او اوز ګړی چي پر هر سن باندي وي . ګیلګي ، پسونه او اوزګړي ، چي سن یې تر ۱۲ میاشتو پورته وي ، د مثال په توګه سر یې ، ماغزه یې او سترګي یې هم .

» معده او کولمه تاسو کولای شئ هغه وخت له ځانه سره یوسئ ، چي په هغه ځای
کي خالي او پاک شي . سرونه کېدای شي ، هغه
وخت پوست شي ، چي د حیوان سن تر ۱۲ میاشتو کم وي او د مسلخ له خوا
اجازه ورکړه شي .

» د حیوان د غوښو د ترانسپورت لپاره له کوره مناسب لوښي له ځانه سره
راوړئ . د مثال په توګه پاک پلاستیکي بکسونه . په اوړي
کي توصیه کیږي ، چي یخ بکسونه له ځانه سره راوړئ .

» که تاسو نوري پوښتني ولري او یا په دي اړه د زده کړو کورسونه او یا
لارښودني ته اړتیا لرئ ، تاسو کولای شئ ، ستاسو په ځای کي د مربوط ویترینري
اداري سره په ښاروالي او د سیمي په مدیریت کي اړیکي ونیسئ .

وخت : ۲۸-۶-۲۰۱۶